مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۷/۰۴

# د یادونو دروازه

## ادبي ټوټه

برایي ئې د یادونو تر چولې تور اوږده وربښتان، غټې بوري سترګې، وچ اناري شونډې را ښکاره سوې، په ټیټ آواز ئې په ګلابي ژبه را ږغ کړه: «یې؟»

ور ولاړ سوم، سر مې وښوراوه، ژر مې ور غبرګه کړه: «هو! هو! یم... راځه!»

په قهر ئې وویل:

درته ویلي مي نه وه چي نور به مي نه یادوې؟ تا نن بیا زه ولي در بللي یم؟

ورته چوپ سوم...موسکا مي د مخ د ګونجو په ځپو کي ډوبه سوه...

سور اورغوی، سپین لاس، شنه بنګړي را وغځېدل... په کونج کي پروت څراغ ئې داسي بند کړ لکه د هیلو یوه بله بَله ډېوه چي ئې را مړه کړه...

د خاطرو دراوزه ئې په ډاااام سره په ځان پسي بنده کړه او ولاړه...

پرېوتم چي خوب راسي او په خوب ئې ووینم...

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ